**د افغانســـــتان اســـــلامي امارت**
**د ارشــــاد، حج او اوقافو وزارت**
**د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست**
**د ارشـــــاد او دعوت آمريت**
**د خطبو د تنظيم عمومي مديريت**

**د جمعې د خطبې لاربښود مؤرخ: ۱۴۴۳/۶/۱۰هجری قمری مطابق۱۴۰۰/۱۰/۲۴هجری شمسی**

# په اسلام کې د دوستۍ او دښمنۍ معيارونه

الحمد لله الذي أنزل على عبده الكتاب وجعله هاديًا ونذيرًا، ومرشدا لمن تمسك به واعتمد عليه في موالاته ومعاداته، فهو له سراجٌ منيرٌ، وأوجب فيه مقاطعة أهل الكفر و الشرك ومن كان لهم مؤيدا ونصيرا.
والصلاة والسلام على أشرف خلقه محمد - صلى الله عليه وسلم - الذي مزق الله بمبعثه ظلام الكفر، وجعل من هديه مباينة الكفر والمشركين جملة وتفصيلاً. وعلى آله وأصحابه الذين تحابوا في الله حبًّا، وجاهدوا به الكفار والمنافقين جهادًا كبيرًا وبعد:

**په اسلام کې د دوستۍ او دښمنۍ معيارونه:**

که چيرې قرآن کريم او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت په غور سره مطالعه شي دوه ډوله متضاده ډلې شتون لري چې د تاريخ په اوږدو کې يې تل يو دبل په مقابل کې مبارزه کړې ده؛ چې يوه يې د حق ډله ده چې د مؤمنانو او مسلمانانو له ډلې څخه عبارت دی او بله يې د باطل ډله ده چې د کفارو او مشرکينو څخه عبارت دی.

په اسلام کې د ددوستۍ او دښمنۍ معيارونه په دغو دوو ډلو پورې تړاو لري.

اسلامي شريعت مونږ ته امر کړی دی چې د الله تعالى او د هغه د رسول- صلى الله دعليه وسلم- سره بايد محبت او مينه ولرو او له هغه چا سره مينه او محبت ولرو چې په الله تعالى او د هغه په رسول يې ايمان راوړی وي او د داسې خلکو سره مرسته وکړو او ملګرتيا ورسره ولرو. بالعکس کفر ته په بده سترګه وګورو او او کفارو له محبت او ملګرتيا څخه ځانونه لرې وساتو.

د اسلام دمقدس دين له نظره انسانانو سره د دستۍ او دښمنۍ مبنا بايد د ايمان، اسلام، پرهيزګارۍ ، له الله تعالى څخه ويره او د الله تعالى د رضا حاصلولو په خاطر وي؛ نه د قوم ، نژاد، ځای او مذهب په اساس. که چيرې مونږ دغه معيارونه په نظرکې ونيسو يقينا چې کاميابي زمونږ په برخه وي.

**الف- د دوستۍ معيارونه:**

**۱-ايمان او اسلام،**

په کار ده چې مونږ د انسانانو سره دوستي د ايمان او اسلام په اساس عيار کړو.

هغه څه چې مونږ په کې د نورو سره اختلاف لرو هغه د ايمان موضوع ده ، هرڅوک چې په الله تعالى ايمان ولري مونږ مسلمانان له هغه سره مينه لرو او هغه خوښ ګڼو او ورسره مرسته او ملګرتيا کوو هغه چې د هر قوم څخه وي ، دهرې اقليم څخه وي او د هر رنګ څخه وي. او هغه څوک چې په الله تعالى يې کفر کړی وي، له هغه سره مونږ محبت نلرو، بلکې هغه بد ګڼو او ورته په بده سترګه ګورو او ورسره دښمني لرو ترڅو داسلام دين ته را وګرځي.

بناء مونږ مسلمانانو ته دايمان او کفر موضوع ډيره مهمه موضوع ده. زمونږ مسلمانانانو لپاره د محبت ، دوستۍ او همکارۍ معيار ايمان دی او همدا راز د بغض او بدبينۍ او دشمنۍ معيار راته کفر او بې ديني ده.

لکه څرنګه چې الله تعالى په قرآن کريم کې دانسانانو سره ددستۍ او محبت معيار ايمان ګرځولی دی:{ إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ }الحجرات: (۱۰)

**ترجمه:**بیشکه مؤمنان سره ورونه دي، د خپلو ورونو ترمنځ صلح وکړئ ترڅو په تاسو رحم وشي.

په بل آیت کې الله تعالی فرمایلي دي :{ وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاء بَعْضٍ} التوبة: (٧١)

**ترجمه:** مؤمنان سړي او مؤمناني ښځې ځيني ددوی څخه دوستان د ځينو نورو دي .

يعني دوی د ايمان په بنا يو له بل يره دوستي لري.

په يو بل آیت شریف کې د دوستۍ معيار الله تعالی داسې معرفي کوي: { مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ } [ الفتح : ٢٩ ]

**ترجمه:** محمد دالله-تعالی- رسول دی او هغه کسان چې دده سره دي دوی دکفارو په مقابل کې ډيرسخت دي او په خپلو منځو کې يو پربل مهربانه دي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې معيار په اړه فرمايلي دي: ( ثَلاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ بِهِنَّ حَلاوَةَ الإِيمانِ : أَنْ يَكُونَ اللهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سَوَاهُمَا ، وَأَنْ يُحِبَّ المَرْءَ لاَ يُحِبُّهُ إلاَّ للهِ ، وَأَنْ يَكْرَهَ أَنْ يَعُودَ في الكُفْرِ بَعْدَ أَنْ أَنْقَذَهُ الله مِنْهُ ، كَمَا يَكْرَهُ أنْ يُقْذَفَ في النَّارِ ) متفق عليه.

**ترجمه:** په چا کې چې دا درې خويونه موجود وي د ايمان خواږه به ويني: يو داچې الله –جل جلاله- او دهغه رسول ورته ترهرڅه خوښ وي. بله داچې د يوچا سره چې محبت کوي يواځې د الله تعالی د رضا په خاطر يي ورسره کوي. بله داچې هرکله چې الله تعالی ورته دکفر څخه نجات ورکړ، کفر ته ګرځيدل ورته داسې ښکاري لکه چې په اور کې واچول شي.

په يو حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم راغلی دي:( عَنْ أَبِى أُمَامَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- أَنَّهُ قَالَ « مَنْ أَحَبَّ لِلَّهِ وَأَبْغَضَ لِلَّهِ وَأَعْطَى لِلَّهِ وَمَنَعَ لِلَّهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الإِيمَانَ ». سنن أبى داود-ن

**ترجمه:**ابو امامه رضی الله عنه د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې دچا سره دالله تعالی د رضا په هيله محبت وکړی او دالله د رضا په هيله څوک بد وګڼي او ور کړی مال خپل د الله تعالی د رضا لپاره او منع يي کړ مال خپل له بدکارو څخه د الله تعالی د رضا په خاطر، بيشکه داسې شخص خپل ايمان کامل کړ.

په حديث شريف کې ددوستۍ او دوښمنۍ معيارونه صراحتا ذکر شوي دي: کامل مؤمن هغه دی چې دهغه چا سره دوستي کوي چې الله تعالی دوست وي او له هغه چا سره دشمني کوي چې د الله تعالی سره دشمن وي.

**٢- د دوستۍ دوهم معيار تقوا او پرهيزګاري ده:**

بايد ددوستۍ معيار تقوا او له الله څخه ويره وي . مونږ ته په کار ده چې د هغه چا سره دوستي او ملګرتيا وکړو چې تقوا يي زياته وي او له الله تعالی څخه زيات ويريږي.

الله تعالی فريمايلي دی: { إِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَالَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ يُقِيمُونَ الصَّلَاةَ وَيُؤْتُونَ الزَّكَاةَ وَهُمْ رَاكِعُونَ }المائدة: ٥٥

**ترجمه:** بيشکه مرسته کوونکی ستاسو(دوست) ستاسو الله تعالی او دهغه رسول دی او مؤمنان دی ، هغه مؤمنان چې لمونځونه قائموي او زکاتونه ورکوي او رکوع کوونکي اوسي.

امام ابوجعفر طبری رحمه الله ددې آيت په تفسير کې ليکلي دي: ددې آيت څخه مقصد دادی چې اې مؤمنانو!

ستاسو لپاره پرته له الله تعالی او د هغه د رسول اوپرته له هغه مومنانو څخه چې صفات يي ذکر شول نور مرسته کوونکي نشته. او د يهودو او نصاراو په اړه درته الله تعالی امر کوي چې ددوی د دوستۍ څخه بيزاره شئ او الله تعالی تاسو ددوی له دوستۍ څخه منع کړي ياستی، دوی ستاسو دوستان او همکاران نه دي، بلکې دوی په خپلو منځو کې يو دبل دوستان دي اودوی په دوستۍ سره مه نيسئ).تفسير الطبري-ط الرسالة

**٣- د دوستۍ معيار بايد دالله تعال رضا حاصلول وي:**

د دوامداره او ريښيني دوستۍ لومړنی شرط دادی چې دوستي بايد د الله تعالی د رضا په خاطر وي، لکه څرنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم په يو قدسي حديث کې فرمايلي دي: (عن مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ فَقَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْكِي عَنْ رَبِّهِ عَزَّ وَجَلَّ يَقُولُ حَقَّتْ مَحَبَّتِي لِلْمُتَحَابِّينَ فِيَّ) مسند أحمد - الرسالة

**ترجمه:** واجب شو زما محبت د هغه دوه کسانو لپاره چې زما د رضا په خاطر يو له بل سره محبت کوي.

په يو بل حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِى ذَرٍّ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « أَفْضَلُ الأَعْمَالِ الْحُبُّ فِى اللَّهِ وَالْبُغْضُ فِى اللَّهِ ». سنن أبى داود-ن

**ترجمه:** غوره عمل د الله تعالی د رضا لپاره محبت کول او دالله د رضا په خاطر بغض کول دي.

**د مسلمانانو سره د دوستۍ ځينې بيلګې:**

**١-**مسلمانانو ټولني ته هجرت کول او کفارو ټولنه پريښودل:

ددين په خاطر د کفارو د ښارونو څخه دمسلمانانو ځای ته تلل هجرت بلل کيږي. په داسې نيت سره هجرت کول ترقيامت پورې جاري دی. رسول الله صلی الله عليه وسلم په يو حديث کې همدې خبرې ته اشاره کړې ده او فرمايلي دي: ( أنا برىء من كل مسلم يقيم بين أظهر المشركين » سنن أبى داود

**٢-**د مسلمانانو سره همکاري او د هغوی سره ځاني او مالي مرسته کول.

الله تعالی فرمايي:( وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ). (التوبة: ٧١ )

په يو بل آيت شريف کې راځي: {وَإِنْ اسْتَنصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ } الأنفال :٧٢ .

**ترجمه:** که چيرې (مؤمنان) ستاسو څخه مرسته وغواړي پرتاسو دهغوی مرسته کول لازم دي

**٣-**د مسلمنانو په خوشحالی خوشحاله کيدل او دهغوی په غم باندې غمجن کيدل.

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: (مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالْحُمَّى والسَّهَرِ ) صحيح البخاري .

**٤-**دمسلمانانو لپاره خيرخواهي غوښتل او هغوی ته د خير رسولو غوښتنه او دمسلمانونو سره ددوکې او غدرڅخه ځان ساتل.

پيغمبرعليه السلام فرمايلي دي: ( لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ ). صحيح البخارى

**٥-**د مسلمانانو احترام او درناوی کول او دهغوی د نقصانونو او عيبونو پلټلو څخه ځان ساتل.

الله تعالی فرمايي : ( يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَومٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْراً مِنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْراً مِنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُوْلَئِكَ هُمْ الظَّالِمُونَ(١١)يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيراً مِنْ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضاً أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتاً فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ ) . ( الحجرات : ١١-١٢).

**٦-**دمسلمانانو سره په سختۍ او راحت هرحالت کې شريک او يو ځای پاتې کيدل او لکه دمنافقانو دهغه خوی څخه ځان ساتل چې کله به راحت ؤ دمسلمانانو سره به ؤ خو چې کله به سختی راغله دمسلمانانو څخه به جدا شول.

الله تعالی فرمايلي دي: {الَّذِينَ يَتَرَبَّصُونَ بِكُمْ فَإِنْ كَانَ لَكُمْ فَتْحٌ مِنْ اللَّهِ قَالُوا أَلَمْ نَكُنْ مَعَكُمْ وَإِنْ كَانَ لِلْكَافِرِينَ نَصِيبٌ قَالُوا أَلَمْ نَسْتَحْوِذْ عَلَيْكُمْ وَنَمْنَعْكُمْ مِنْ الْمُؤْمِنِينَ }. (النساء :١٤١).

**٧-**دمسلمانانو پوښتنه او دهغوی سره ملاقات او ليدنه خوښ ګڼل.

په يو قدسي حديث کې راځي :( وَجَبَتْ مَحَبَّتِي لِلْمُتَزَاوِرِينَ فِيَّ ). مسند احمد

په یوبل حدیث شریف کې راځي: (أَنَّ رَجُلاً زَارَ أَخاً لَهُ فِي اللهِ فَأَرْصَدَ اللَّهُ لَهُ عَلَى مَدْرَجَتِهِ مَلَكاً فسأله أَيْنَ تُرِيدُ ؟ قَالَ: أزورُ أَخاً لِي فِي اللهِ، قَالَ هَلْ لَكَ عَلَيْهِ مِنْ نِعْمَةٍ تَرُبُّهَا قَالَ: لاَ ، غَيْرَ أَنِّي أَحْبَبْتُهُ فِي اللَّهِ قَالَ: فَإِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكَ بِأَنَّ اللَّهَ قَدْ أَحَبَّكَ كَمَا أَحْبَبْتَهُ فِيهِ ). السنن الكبرى للبيهقي

**٨-** په معاملاتو کې دمسلمانانو دحقوقو احترام او درناوی کول لکه د مسلمان بیع دپاسه بیع کولو څخه ځان ساتل، دمسلمان دخطبې دپاسه له خطبې کولوڅخه ځان ساتل او داسې نور.

پیغمبرعلیه السلام فرمایلي دي: ( ألا لايَبِعْ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ وَلَا يَخْطُبُ عَلَى خِطبَتِهِ). وفي رواية ( ولايَسُمْ على سَوْمِهِ) .

**٩-** دمسلمانانو د ناتوانه او کمزورو خلکو خیال ساتل او دهغوی سره مهرباني کول.

الله تعالی فرمایي: ( وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيا).(الكهف:٢٨)

په یو حدیث شریف کې راځي: وقال(هل تُنْصَرُونَ وتُرْزَقُونَ إلابِضُعَفَائِكُمْ ). رواه البخاري مرسلا

**١٠-** مسلمانانو لپاره دعاء او استغفار غوښتل.

الله تعالی فرمایلي دي : ( وَاسْتَغْفِرْ لِذَنْبِكَ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ).(محمد١٩).

په یو بل آیت شریف کې راځي :( رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ ).(الحشر ١٠).

**ب- په اسلام کې ددښمنی معیار:**

په اسلام کې د ددښمنۍ څخه مراد دادی چې مونږ باید کفر او اهل کفر، شرک او اهل شرک بد وګڼو او ورڅخه بیزاري غوره کړو او هغوی دالله تعالی او دهغه د رسول او دمسمانانو دښمنان وبولو.

الله تعالی فرمایلي دي: الله تعالی میفرماید:{لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءهُمْ أَوْ أَبْنَاءهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ أُوْلَئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ أُوْلَئِكَ حِزْبُ اللَّهِ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ }مجادله:(٢٢)

ځینو مفسرینو فرمایلي دي: دا آیت د ابوعبیده ابن جراح په حق کې نازل شوی دی کله چې هغه خپل پلار د بدر په غزوه کې ووژلو او د ابوبکر صدیق رضی الله عنه په باره کې راغلي دي چې د بدر په غزوه کې هغه وغوښتل چې خپل زوی ووژني مګر هغه ځان یو طرف ته کړ.

د حضرت عمررضي الله عنه په باره کې راغلي دي چې هغه خپل ماما عاص ابن هشام د بدر په غزا کې ووژلو .

د اسلامي تاریخ په پاڼو کې داسې ډیر مثالونه شته چې د اسلام په خاطر مسلمانانو خپل نږدې خپلوان وژلي دي .

دا ددې لوی دلیل دی چې په اسلام کې ددوستۍ او دشمنۍ معیار خپلولي، قوم، نژاد، او منطقه نه ده؛ بلکې په اسلام کې د ددوستۍ او دښمنۍ معیار کفر او اسلام دی .

الله تعالی فرمایلي دي:{لا يَتَّخِذِ الْمُؤْمِنُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاء مِن دُوْنِ الْمُؤْمِنِينَ وَمَن يَفْعَلْ ذَلِكَ فَلَيْسَ مِنَ اللهِ فِي شَيْءٍ إِلاَّ أَن تَتَّقُواْ مِنْهُمْ تُقَاةً وَيُحَذِّرُكُمُ اللهُ نَفْسَهُ وَإِلَى اللهِ الْمَصِيرُ}آل عمران: (٢٨)

په یو بل آیت کې راځي: (إِنَّمَا يَنْهَاكُمُ اللهُ عَنِ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ)[الممتحنة: ٦]

دا موضوع په لاندې سورتونو کې ذکر شوی ده : آل عمران، آیت: ١١٨، النساء، ١٤٤، المائدة، آیت ٥١، التوبة، آیت ٢٣ او ممتحنه ، آیت: ١٣.
په یو حدیث کې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :عن عبدُ اللهِ بنُ عباسٍ - رضى اللهُ عنهما -:( مَنْ أَحَبَّ فِي

اللهِ وأبغضَ في اللهِ ووالى في اللهِ وعادى في اللهِ فإنما تُنالُ وَلايةُ اللهِ بذلك ، وقدْ صارتْ عامةُ مُؤاخاةُ الناسِ على أمرِ الدُنيا وذلك لا يُجدي على أهلِهِ شَيئاً ) رواه ابن جرير

**بلی!** که چیرې د مسلمانانو په ګټه له کفارو سره کوم تړون کیږي هغه جدا موضوع ده ، ځکه په هغه صورت کې محبت او دوستي او قلبي رضايت موجود نه وي فقط د مسلمنانو ګټې په کې مقصود وي، په داسې صورت کې کوم شرعي مانع شتون نه لري. الله تعالی فرمايلي دي:{ لَا يَنْهَاكُمُ اللَّهُ عَنِ الَّذِينَ لَمْ يُقَاتِلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَارِكُمْ أَن تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوا إِلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ}الممتحنه: (۸)

**هغه کړنې چې د کفارو سره په دوستی دلالت کوي او بايد چې ځان ورڅخه وساتو:**

**۱-**د کفارو او مشرکينو او نور ملحدينو سره په لباس ، خبرو او نورو کړنو کې مشابهت کول. ځکه د بې دينه خلکو سره قصدا مشابهت کول د هغو ی سره د محبت دليل دی.

پيغمبرعليه السلام فرمايلي دي:( مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ ).

د غيرمسلمانانو سره په هغو کارونو کې مشابهت کول چې د هغوی پورې مخصوصو وي حرام دي که هغه عبادات وي او که عادات وی او يا دهغوی اخلاق وی؛ لکه د ږيرې خريل، د بريتونو اوږدول، چسپ او تنګ لباسونه کول او دسر ويښتان د هغو ی په شان کمول او خريل.

**۲-**د کفارو او غيراسلامی دولتونو کې پرته له ضرورته اوسيدل او دهغوی له دولتونو څخه دمسلمانانو دولتونو ته هجرت نه کول. ځکه مسلمان ته په کاردي چې د غير اسلامي ملکونو څخه اسلامي ملکونو ته هجرت وکړي. پرته له ضرورته دهغوی په ملکونو کې اوسيدل دهغوی دمحبت دليل دی اوهغوی په مرضونو داخته کيدو لامل دی.

**۳-**غير اسلامي ملکونو ته د سياحت او وخت تيرولو په موخه سفرونه کول.

که چيرې څوک غيراسلامي ملکونو ته دکوم ضرورت په بنا سفر وکړي بايد دخپل اړتيا دپوره کيدو څخه وروسته فورا دې خپل اسلامي ملک ته رجوع وکړي او د فتنې دځای څخه ځان را وباسي.

**۴-**د غيرمسلمانانو او کفارو سره دمسلمانانو په مقابل کې مرسته کول او کفارو صفتونه کول او دهغوی دجرمونو څخه دفاع کول. ځکه په دې کار سره دمسلمان څخه ايمان زائليږي او په کارسره کافرکيږي.

**۵-**د کفارو څخه مرسته غوښتل او په کفارو تکيا کول او دکفارو په داسې حساسو منصبونو ګمارل چې له امله يې دمسلمانانو رازونه او مهم سياستونه افشا کيږي او له کفارو سره پټه دوستي کول هم حرامه ده.

الله تعالی فرمايلي دي:( يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا بِطَانَةً مِنْ دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالاً وَدُّوا مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتْ الْبَغْضَاءُ مِنْ أَفْوَاهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمْ الْآيَاتِ إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ(۱۱۸)هَاأَنْتُمْ أُوْلَاءِ تُحِبُّونَهُمْ وَلَا يُحِبُّونَكُمْ وَتُؤْمِنُونَ بِالْكِتَابِ كُلِّهِ وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُوا آمَنَّا وَإِذَا خَلَوْا عَضُّوا عَلَيْكُمْ الْأَنَامِلَ مِنْ الغَيْظِ قُلْ مُوتُوا بِغَيْظِكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ(۱۱۹) إِنْ تَمْسَسْكُمْ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ وَإِنْ تُصِبْكُمْ سَيِّئَةٌ يَفْرَحُوا بِهَا ).(آل عمران:۱۱۸-۱۲۰).

په دې آيتونو کې الله تعالی دکفارو هغه پټې کينې او مکرونه بيانوي چې دکفار يې دمسلمانانو په اړه په زړونو کې لري او دهغوی هغه بدتدبيرونه، پلانونه اوخيانتونه چې دمسلمانانو دځپلو او ذليله کولو لپاره يې په زړونو کې لري الله تعالی ورڅخه پرده پورته کړی ده.

په کارده چې دوی ته خپلو شومو اهدافو درسيدو لارې وربندې کړای شي او هغوی ته دنږدې کيدو څخه ډډه وشي.

امام احمد رحمه الله په خپل مسند کې د حضرت ابومسی اشعري او دعمربن الخطاب رضی الله عنهما واقعه ذکر کړی ده، په هغه قصه کې داسې راځي: (قال أبو موسى الأشعري -: قلتُ لعمرَ :لي كاتبٌ نصرانيٌ ،قال: مالَكَ قاتلَكَ اللهُ ، أما سمعتَ قولَه تعالى ( يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ).(المائدة:۵۱).ألا اتخذتَ حنيفاً ! قلتُ: يا أميرَ المؤمنينَ لي كتابتُه وله دينُه ، قال:لا أُكرمُهم إذ أهانَهم اللهُ ، ولا أُعزُهم إذ أذلَهم اللهُ ، ولا أُدينهم وقد أقصاهم اللهُ .

د ذکر شوو دلیلونو څخه د کفارو سره دمحبت او دوستی حراموالی ښکاره معلومیږي.

**۶-**دکفارو په تاریخ عمل او درامد کول او هغه دخپل رسمي او غیر رسمي ژوند لپاره اساس ګرځول په ځانګړي توګه هغه تاریخونو باندې اهتمام کول چې هغوی په کې دیني مراسم او اخترونه لمانځي. لکه عیسوي خود ساخته او دروا‌غجن تاریخ چې دوی ددې تاریخ پیل له ژمي موسم څخه کوي او وایي چې حضرت عیسی علیه السلام په دې تاریخ کې زیږیدلی دی چې دا ددوی محض درواغ دي.

همدا وجه ده چې صحابه کرامو ددې تاریخ داستعمال څخه ډډه وکړه او اسلامي تاریخ چې د کفارو سره په کې هیڅ ډول مشابهت نشته رامنځ ته کړ.

**۷-**دمشرکانو او کفارو سره د هغوی په ملي او دیني مراسمو کې د برخې اخیستلو څخه څخه ډډه کول او دهغوی سره داخترونو او نورو مراسمو د لمانځولو څخه ځان ساتل او په کې برخه نه اخیستل او هغوی ته دمبارکی او نورو علاقاتو څخه ځان ساتل. ځکه داسې کارونه د کفارو سره ددوستۍ دلیل دی.

**۸-**د کفارو او غیرمسلمانانو د پیشرفتونو او تمدن صفتونه کول هغه څه دیي چې مسلمانانو روحیه تضعیفوي او هغوی ته دمیلان دلیل ګرځي . سره ددې چې ټولو تمدنونو اصل او اساس د مسلمانانو په لاس اینودل شوی.

الله تعالی فرمایلي دي: ( وَلَا تَمُدَّنَّ عَيْنَيْكَ إِلَى مَا مَتَّعْنَا بِهِ أَزْوَاجًا مِنْهُمْ زَهْرَةَ الْحَيَاةِ الدُّنيَا لِنَفْتِنَهُمْ فِيهِ وَرِزْقُ رَبِّكَ خَيْرٌ وَأَبْقَى ).(طه۱۳۱).

خو ددې څخه هیڅکله دا مقصد نه دی چې مسلمانان دې د پیشرفت او تمدن وسائلو او اسبابو ته لاسرسی ونه لري ؛ بلکې مسلمانان ترټولو ددې زیات مستحق دي چې دخپل ژوند دحفاظت لپاره هرډول صنعتونه او اقتصادي وسائل او تجهیزات رامنځ ته کړي او دهر ډول تمبلۍ او سستۍ څخه ځانونه وژغوري او لکه دماضي په شان مسلمانان په خوښۍ او خیرازۍ کې ژوند وکړي. الله تعالی فرمایلي دي: (وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ). (الأنفال۶۰)

الله تعالی فرمایلي دي: {قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنْ الرِّزْقِ قُلْ هِيَ لِلَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ}.(الأعراف:۳۲).

په بل ځای کې راځي : ( وَسَخَّرَ لَكُمْ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعاً مِنْهُ ) (الجاثية:۱۳).

**۹-**په بچو باندې دکفارو نومونه اېښودل د هغوی سره ددوستۍ معنا لري.

متأسفانه نن ورځ په ځینو مسلمانانو کې رواج شوی دی چې خلک په خپل بچو باندې د خپلې اسلامي ټولنې او اسلامي نومونو پرځای غیرمانوسه او دکفارو او مشرکینو نومونه ږدي چې دا کار د غیر مسلمانانو سره دموالات او دوستۍ معنالري او دبچو په حقوقو ایری کوي ؛ځکه په بچو باندې د اسلامي نوم ایښودل د اولادونو په پلرونو او میندو باندې شرعي حق دی.

**۱۰-** کفري قوانین -که هغه شرقي وي او غربي- د شریعت پرځای راوړل هم د کفارو او بې دینه خلکو سره د موالات او دوستۍ ښکاره دلیل دی او دالله تعالی او دهغه د شریعت سره د ددښمنۍ معنا لري او باید چې ټول مسلمانان ددې کار څخه ځانونه وساتي که هغه مسلمان حاکمان وي او که عام خلک.

**والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته**